مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۷/۱۱

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(یوسلاو اوومه برخه)

### عبدالقادر طرزي

د محمود طرزي زوی په ۱۹۱۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. لومړنی زده کړې ئې د حبیبیې په ښوونځي کې تر لاسه کړې. په ۱۹۲۲ز کال کې له خپل پلار سره پاریس ته لاړ او همدلته ئې لومړنی او منځنی زده کړې د جانس په لیسې کې په ۱۹۲۹ز کال کې بشپړې کړې. دی له خپلې تبعیدي کورنی سره په استانبول کې یو ځای سو. خپل لیسانس ئې په فرانسوي ادبیاتو کې د استانبول له پوهنتون څخه تر لاسه کړ. په ۱۹۵۲ز کال کې کابل ته راستون سو. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۶۶ز کال پورې په کابل کې د ملګرو ملتونو د مأموریت په دفتر کې کارمند؛ وروسته په تورکیې کې د ملګرو ملتونو د مأموریت کارمند؛ بیا په مالیزیا او الجزایر کې د ملګرو ملتونو د مأموریت کارمند او په ۱۹۷۴ز کال کې کابل ته راستون سو. اوس له خپلې ارجنتاینی مېرمنې سره د هسپانیې په „ کستادل سول" [1] کې ژوند کوي. د کریم او عمر په نومونو دوه زامن لري.

### عبدالرؤوف طرزي

د حبیب الله طرزي زوی او د غلام یحیی ورور دئ. وروسته له دې چې د امیر امان الله خان یوې خور، هوا سراج ته ئې طلاق ورکړ له حوریې طرزي سره ئې وادهٔ وکړ. په ۱۹۲۰ز کال کې د هرات د شلمې لیوا بولندوی افسر. په ۱۹۲۱ز کال کې په کابل کې د سپارهٔ ځواک د یوې لیوا بولندوی وو. په ۱۹۳۰ز کال کې په کراچۍ کې افغان قنسل. سوداګري ئې پیل کړه او په ۱۹۳۵ز کال کې جاپان ته لاړ. په ۱۹۵۸ز کال کې وفات سو.

### عبدالتواب طرزي

د محمود طرزي زوی په ۱۹۰۷ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. لومړنی زده کړې ئې د کابل د مرادخانی په ښوونځي کې تر لاسه کړې او وروسته له ۱۹۱۹ تر ۱۹۲۱ز کال پورې په پوځي اکادیمۍ کې شامل سوی دئ. وروسته پاریس ته لاړ او هلته ئې له ۱۹۲۱ تر ۱۹۲۳ز کال پورې د „میشلت" [2] په لیسې کې او له ۱۹۲۳ تر ۱۹۲۵ز کال پورې

[1] -Costa del Sol, Spin
[2] -Lycee Michelet


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ئـي په «سینت سیر»[3] کې زده کړې وکړې او د «بریدګي/ ضابط» [4] په رتبې ورڅخه فارغ سو. له ۱۹۲۵ تر ۱۹۲۶ز کال پورې د «سومیغ» [5] د سپارۀ ځواک په ښوونځي کې شامل سو. په ۱۹۲۶ز کال کې افغانستان ته راستون سو. له ۱۹۲۶ تر ۱۹۲۸ز کال پورې د حربي کالج مرستیال بولندوی. په ۱۹۲۸ز کال کې ئـې اروپا ته د امیر امان الله خان د سفر ملګرتیا وکړه. د پوځي اکاډیمی بولندوی. د حبیب الله کلکاني پر وړاندې ئـې جګړه وکړه او ورپسې د شهزاده عنایت الله په ملتیا ئـې کابل پرېـښود او په ۱۹۲۹ز کال کې له امیر امان الله خان سره یو ځای سو. له غلام صدیق سره هرات ته لاړ او په ۱۹۲۹ز کال کې مسکو ته لاړ. له افغانستانه د امیر امان الله خان تر وتلو پورې ئـې په مسکو کې په افغان سفارت کې کار وکړ. په «مارسلس» [6] کې له امان الله خان سره یو ځای سو او د ۷ میاشتو لپاره روم ته لاړ. په ۱۹۳۰ز کال کې تورکیې ته لاړ او د مصطفی کمال اتاترک تر بولنې لاندې د تورک له وسله وال ځواک سره یو ځای سو. په ۱۹۶۰ز کال کې د تورک له وسله وال ځواک څخه تقاعد سو او په استانبول کې ژوند کوي.

## عبدالوهاب طرزی

د محـمـود طرزي زوی په ۱۹۰۳ز کال کې په کابل کې زېـږېـدلی دئ. په ۱۹۲۲ز کال کې د «ایګزیتر په کالج» [7] کې شامل سو او په ۱۹۲۸ز کال کې په سیاسي علومو کې د لیسانس په اخیستلو فارغ سو. په ۱۹۲۰ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د شفر په مدیریت کې مقرر سو. په ۱۹۲۱ز کال کې اروپا ته لاړ د ۱۹۲۰ز لسیزې په وروستیو کې د باندنیو چارو په وزارت کې د پروتوکول عمومي مدیر سو. اروپا ته د امیر امان الله خان د سفر ملګری وو. کله چې حبیب الله کلکاني واک ونیوۀ، دۀ هم تبعید ته مخه کړه. له ۱۹۳۹ تر ۱۹۵۲ز کال پورې د استانبول په پوهنتون کې د پاړسي ژبې او ادبیاتو استاد وو. په ۱۹۵۳ز کال کې د مطبوعاتو د ریاست د نشراتو عمومي مدیر وو. د مطبوعاتو د وزارت د کلتوري اړیکو عمومي مدیر. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د افغان توریزم/ افغان ګرځندوی- ژ بنسټ ایښودونکی او مدیر وو او په فعاله توګه ئـې افغانستان کې د توریزم په منظم او سمبال سوی صنعت په پرمختیا کې ونډه واخیستله. په ۱۹۷۳ز کال کې ئـې تقاعد وکړ. په تورکي او پاړسي ژبو د یو شمېـر کتابونو لیکوال او همدا رنګه ئـې په «اسلام انسایکلو پیدیا» [8] او نورو خپرونو کې خپلې مقالې خپرې کړلې. (د امیر حبیب الله خان له کشرې لور او د امیر امان الله خان له خور) خدیجې سره ئـې په ۱۹۲۹ز کال کې وادۀ کړی دئ چې د صفیې او «ایتن» [9] په نومونو دوه لونې لرې او یو زوی ئـې درلود چې په کوچني والي کې وفات سو.

## غلام محـمـد طرزي

سردار دئ، کندهاری دئ. د رحمدل خان تر ټولو مشر زوی دئ او د امیر دوست محـمـد یو له پینځو کندهاریو ورونو څخه دئ. دی یو له هغو سردارنو څخه دئ چې امیر عبدالرحمن خان د ۱۸۸۱ز کال د دسمبر په میاشت کې له کندهار

[3] -St. Cyr
[4] - Sub Lieutenant
[5] - Saumur
[6] -Marseilles
[7] -Exeter Collge
[8] -Islam Ansiklopedisi
[9] -Ayten


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

څخه اخراج کړ. «عثمانیه»[10] ته په تبعید لاړ؛ بیا ئـي دري کاله په کراچي کي تـېـر کړل او ورپسي بغداد ته لاړ او شپږ میاشتي ئـي هلته تـېـري کړلي. په پای کي ئـي بـېـرته استانبول ته مخه کړه چي سلطان عبدالحمید په خورا ورین تندي ومانـهٔ؛ سلطان عبدالحمید دی دمشق ته د سلطنتي مـېـلمه په توګه ولـېـږهٔ. دی یو له مشهورو شاعرانو څخه وو چي د «طرزي» مستعار نوم ئـي غوره کړی وو. شعري دیوان ئـي په ۱۸۸۱ز کال کي د دهٔ د زوی محمد زمان خان له لوري په کراچي کي چاپ سو. په ۱۹۰۰ز کال کي په دمشق کي وفات سو. دی د محـمـود طرزي پلار وو.

## غلام یحیی طرزي

مـحـمـد زی دئ. د نائـب حبیب الله طرزي زوی او د محـمـود طرزي ورارهٔ په ۱۸۹۸ز کال کي زېـږېـدلی دئ. د باندنیو چارو په وزارت کي مقرر سو او د تورکستان – شوروي اتحاد د څانګي مسؤول وګومارل سو. له ۱۹۲۳ تر ۱۹۲۶ز کال پوري په برلین کي د افغان دیپلوماتیک استازیتوب سکرتر. د ۱۹۲۶ز کال کي د جون په میاشت کي د باندنیو چارو د وزارت د پاسپورت او ویزي د څانګي مرستیال سکرتر وګومارل سو. د ۱۹۲۶ز کال د نوامبر په میاشت کي د باندنیو چارو د وزارت د تورکستان – شوروي اتحاد څانګي ته تبدیل سو. د ۱۹۲۷ز کال کي د فبروری په میاشت کي ئـي د ستور لومړی درجه مډال تر لاسه کړ. له ۱۹۲۷ تر ۱۹۲۸ز کال پوري اروپا ته د امان الله خان د سفر ملګری وو. په ۱۹۲۸ز کال کي د سیاسي چارو عمومي مدیر وو. د سقاو د زوی کسانو ورسره په شدت او خښم چلند وکړ خو ورسره سره بیاهم د ۱۹۲۹ زکال د جنوری تر میاشتي پوري د باندنیو چارو په وزارت کي پاتي سو. د باندنیو چارو د وزارت د سیاسي مدیریت مرستیال سکرتر. د وزارت د لومړي مرستیال وزیر منصب ته ئـي ارتقاء وکړه. په ۱۹۳۰ز کال کي د افغانستان د باندنیو چارو په دفتر کي. په ۱۹۳۱ز کال کي ئـي له فارس سره د هلمند د اوبو د شخړي پر سر له چخانسور څخه لیدنه وکړه. د ۱۹۳۳ز کال په مني کي ئـي د باندنیو چارو د سرپرست وزیر دنده تر سره کړه. د ۱۹۳۵ز کال د فبروری په میاشت کي د عامي روغتیا د ریاست د رئیس په توګه مقرر سو. او په جون کي ئـي د وزیر تر مقامه ارتقاء وکړه. په ۱۹۳۹ز کال کي د پوست او تیلیګراف وزیر. له ۱۹۴۱ تر ۱۹۴۵ز کال پوري د روغتیا وزیر. په ۱۹۴۸ز کال کي عراق ته افغان مختار سفیر. په ۱۹۵۲ز کال کي د مالیي وزیر. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۵۷ز کال پوري په مسکو کي د افغان سفارت سفیر. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۰ز کال پوري په پاریس کي د افغان سفارت سفیر. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۴ز کال پوري په پراګ کي د افغان سفارت سفیر.

## حبیب الله طرزي

مـحـمـدزی دئ. د مـحـمـد زمان زوی او د محمود طرزي ورارهٔ دئ او په ۱۸۹۹ز کال کي زېـږېـدلی دئ. له ۱۹۲۲ تر ۱۹۲۳ز کال پوري د باندنیو چارو په وزارت کي د اینډو – اروپا په څانګي کي کشر مرستیال سکرتر. کله چي محمود طرزي په پاریس کي سفیر مختار وو دی ورسره پاریس ته د سکرتر په توګه لاړ. کله چي بـېـرته کابل ته راستون سو د باندنیو چارو د وزارت د اینډو – اروپا د څانګي د مسؤول مدیر په توګه مقرر سو.د ۱۹۲۸ز کال د نوامبر په میاشت کي پاریس کي د افغان مختار سفیر په توګه وګومارل سو. د ۱۹۲۹ز کال د دسمبر په میاشت کي ئـي ځای احمد علي جان ونیوهٔ او دی کابل ته راستون سو. د ۱۹۳۱ز کال د مي په میاشت کي د باندنیو چارو د وزارت دریم

[10] - Ottoman


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

سکرتر مقرر سو. د ۱۹۳۲ز کال د جون په میاشت کې د «دوخالیم د سرحدي تحدید د کمیسیون»[11] د مشر پلاوي په توګه وټاکل سو. د ۱۹۳۲ز کال د اکتوبر په میاشت کې د فارس له سرحدي کمیسیون سره او د هلمند د اوبو پر سر د شخړې د هوارۍ د کمیسیون د مشر پلاوي په توګه مقرر سو. په ۱۹۳۲ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت دریم مرستیال وزیر. د ۱۹۳۳ز کال د جون په میاشت کې ئـې د فارس د سرحد په اړوند خپل د سروې کار بشپړ کړ او کابل ته راستون سو. له ۱۹۳۳ تر ۱۹۳۹ز کال پورې په توکیو کې د افغان سفارت مختار سفیر مقرر سو. په ۱۹۳۹ز کال کې د باندنیو چارو د وزارت مرستیال وزیر. په ۱۹۴۶ز کال کې د امریکا د متحده ایالاتو سفیر. له ۱۹۴۷ تر ۱۹۵۰ز کال پورې د چین سفیر. په ۱۹۵۳ز کال کې متقاعد سو.

## حـمـیـدالله طرزي

(د افغان دیپلومات) حبیب الله طرزي زوی په ۱۹۲۵ز کال کې په کابل کې زېږېـدلی دئ. زده کړې ئـې د حـبـیـبـیـې په لیسې کې وکړې. خپل لیسانس او ماسټري دواړه ئـې د برکلي د کالیفورنیا له پوهنتون څخه ترلاسه او د دکتورا مطالعات ئـې له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۵ز کال پورې د سویلي میسي سي پي په پوهنتون کې تر سره کړې. د پلان په وزارت کې د باندنیو چارو او قراردادونو مدیر. د سوداګرۍ په وزارت کې د بازار موندنې یا مارکیټنګ عمومي مدیر. د مالیې په وزارت کې د تدارکاتو رئـیس. د سوداګرۍ په وزارت کې د کورنۍ سوداګرۍ عمومي مدیر. د سوداګرۍ په وزارت کې د ترانسپورت عمومي مدیر. په پـېـښـور کې د سوداګرۍ قـنـسـل. د سوداګرۍ په وزارت کې د پلان او احصائـیې رئـیس. په افغانستان کې د اقتصادي پرمختګ په هکله د کتابونو لیکوال. لومړی ئـې له نسرین ضیایي سره واده وکړ او بیا ئـې (د غلام یحیی طرزي له لور) ماریا طرزي سره واده وکړ. په کابل کې ژوند کوي.

### نور بیا

## جلال الدین طرزي

په ۱۹۱۲ز کال کې په کابل کې زېږېـدلی دئ. زده کړې ئـې...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک

[11] -Dokhalim Boundary Commission


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ